# د باچا خان د نثر لیکلو فکري څېړنه

## A Study of Thoughts of Bach Khan in his Prose writing

ډاکټر شېرزمان سیماب*


## Abstract:

One of the most popular leader of Pashtun is no doubt Khan Abdul Ghaffar Khan, commonly known as Bacha Khan. Perhaps, his dedication, honesty, zeal and simple life style has made him popular in tribal public but the world has certainly been convinced through his teachings and philosopies with special reference of Non-violent philosophy which he acted upon in its true spirit.

Author of this paper thoroughly studied Bacha Khan's prose writings and strived to bring out the thoughts and concealed philosophy in it.


د هر تخلیق په شالید کښې څهٔ مقصدي عنصر ضرور موجود وي. بیا چې د کوم تخلیق سره د کردار او ګفتار دواړو عملي اقدامات هم مخې ته پراتهٔ وي او د سلو کالو خواؤ شا د لوئې مبارزې ستونزې، سختې او کړاوونه ئې هم د تاریخ یو مهمه برخه وي نو دې درد درد کېفیت کښې چې د تاریخ د مخ نه ئې سل کاله نزدې په خواؤ شا تېرېدو نه پس هم وینې ځاځي نو ښکاره ده چې په دغه اړوند کوم تخلیقات مخې ته راځي اورومرو به په خپل ځان کښې یو لوئې مقصدیت محفوظ ساتي او بیا د کوم مقصد حصول چې سل کاله پس هم د یو قام دپاره شدید ضرورت محسوسوي. نو سل کاله وړاندې چې دغه قام ته د غلامۍ جغ په اوږو اېښودې شوې ؤ. د تعلیم نه لرې باسلې شوې ؤ. په غلطو رسمونو، رواجونو کښې اړم کړې شوې ؤ او د ذات او پات په ډنډ ورلاهو کړې شوې ؤ. حقیقت دادې چې دغه وخت کوم تحریک او د هغې عملیات پېل شوي وو تول د یو عظیم مقصد د حصول دپاره په وجود کښې راغلي وو.

په نړیوال تاریخ چې مونږ یو زغلند نظر واچوو نو دا خبره ډاګې ته کېږي چې چرته هم تحریکونه او نهضتونه راپورته شوي دي نو مشرانو او لار ښودونکو ئې دوه خبرې د خپلې فکري خپروني د کامیابۍ او تحریک د پرمختګ دپاره په نظر کښې نیولې دي. چې یوه د تقریر ده او بله د تحریر ده. مطلب دا چې په تقریر په یوه وخت یوه غونډه مخاطب کولې شي او تحریر سره خپل فکر تر لرې لرې هم خورولې شي او تاریخ ته ئې هم د راروانو وختونو دپاره سپارلې شي.

---

* Junior Research Officer, Pashto Academy, University of Peshawar

د پېرنګي سامراج برخلاف د هندوستان اولس او سیاسي جماعتونو عموماً او د پښتونخوا اولس او سیاسي جماعتونو او تنظیمونو خصوصاً د تاریخ پاڼې د خپلې مبارزې نه ډکې کړې دي. چې په کښې د پښتونخوا د هشنغر په پښتنه سیمه کښې د ازادۍ لوئی پاڅون خدائي خدمتګار تحریک هم د هندوستان د ازادۍ د تحریکونو هغه برخه ده چې په ذکر نۀ کولو ئې د هندوستان د ازادۍ تاریخ نیمګړی څۀ چې بې معنې کېږي. ددې تحریک ډېرو نورو خوبو کښې دا هم یوه لویه خوبي وه چې ددې غړو یوازې د پېرنګي نه ازادي خپل مقصد نۀ ګڼلی بلکې د خپل قام اصلاح ئې بنیادي محرک ؤ او په دغه بنیادي او اساسي نظریه او عقیده دا راپاسېدلي خړ پړ، ساده باده او شډل بډل پښتانۀ د خپل جدوجهد او قربانو په وجه د هند د ازادۍ د سر غړو په حېث اوپېژندی شول.

## د باچا خان د نثر لیکونو فکري بنیادونه

د باچا خان ژوند د یوې لوئې مبارزې او جدوجهد نه عبارت دی په هر قدم د یوې قربانۍ تصویر دی د خپل قام او وطن د مینې هغه احساس دی چې په هره سینه کښې ئې د خپل درد څړیکې خورې کړې دي. د سیاسي لار مخالفین ئې هم د مثبت فکر معترف دي. په خلوص او صداقت ئې خپل زورور دشمن پېرنګي شک نۀ کوؤ. بلکې خواهش ئې لرو چې دا خلوص، صداقت او ایمانداري دې زمونږ د وسیع سلطنت په ښېګړه راشي. ولې د باچا خان د پېرنګي استعمار او د هغه د سلطنت په کار راتلل څۀ چې د هغه خلاف ئې د یو داسې عظیم انقلاب دپاره د ذهنونو داسې للمې تیارولې چې په کښې صرف او صرف د پېرنګي د نفرت او د خپل قام سره د محبت تخم کرلی شي. باچا خان لیکي:

"د افغانستان او ازاد قبائیلو حالت چې مې ولیدو او پنځلس کاله مې د هندوستان قبائیلو او افغانستان کښې غورزې پرزې اوکړې نو په دې نتیجه ورسېدم چې انقلاب د منډې کار او دومره اسان څیز نۀ دی. انقلاب د سړې سینې کار دی. انقلاب علم او پوهه غواړي. انقلاب عالمان او پوهان غواړي. چې د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته ئې اماده کړي. د انقلاب دپاره د اشخاصو ضرورت دی. تۀ ګوره چې زمونږ جذباتي ملګري په څومره جوش راوتلي وو ټول لاړل خوارۀ شول. نو کښېناستم د ځان سره مې ښۀ فکر اوکړو. زۀ په دې نتیجه ورسېدم چې زمونږ د قام نۀ د تجارت خواته توجه شته، نۀ د صنعت خوا ته نۀ د زراعت خوا ته او نۀ د تعلیم خواته. د بلې خوا نه په رسمونو، رواجونو کښې تر غوږونو پورې ډوب دی. په خانه جنګیو اخته دی. داسې قام انقلاب نۀ شي کولی او دا قام ددې بلاګانو نه خلاصول پکار دي چې سیاسي شعور په کښې پېدا شي او دا کار یوه پرامنه فضا غواړي. تر دغه وخته پورې زۀ په دې عقیده وم چې دا ټول کارونه انقلاب غواړي تشدد راته د انقلاب نژدې او د کامیابۍ لار ښکارېده خو تجربې نه وروسته راته معلومه شوه چې د جنګ په وخت کښې اسونه نۀ تیارېږي. نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کېږم او د عدم تشدد د اصولو په بنا به کار

کوم اول به د انقلابي اشخاصو د تعليم او تربيت دپاره قومي مدرسې جوړۆم نو ځکه اتمانزو ته راغلم. زۀ چې له هجرته بېرته راغلم د هغو مدرسو د بېرته جاري کولو کوښښ مې کولو چې پېرنګيانو د جنګ په زمانه کښې بندې کړې وې"(1).

بهادر شاه ظفر کاکاخېل ليکلي دي :

,, په ابتداء کښې خان عبدالغفار خان او د هغه نورو ملګرو د سياسياتو نه ځان ژغورلی ؤ. د دوئي دا اراده وه چې د پښتون قام د خرابو رسمونو رواجونو اصلاح اوکړي او په پښتنو کښې د حصول علم جذبه راويښه کړي. د انګرېزانو په دور کښې هسې هم د پښتنو د تعليمي ترقۍ نه بې توجهي اختيار کړې شوې وه او پښتانۀ هم په خصوصيت سره په انګرېزي سکولونو کښې د تعليم حاصلولو نه متنفر وو. ددې نتيجه دا وه چې پښتانۀ بچي په خوفناکه طريقه د علم نه بې بهره وو. په دې غرض خان عبدالغفار خان په ۱۹۲۴ء کښې د انجمن اصلاح افاغنه په نوم يو انجمن تشکيل کړی ؤ"(2).

د خيبر پښتونخوا اتلان مؤلف ليکي چې :

"د کابل نه په واپسۍ دوئي دا فېصله اوکړه چې هر څنګه وي خو د خپل اولس نه به د جهالت او نورو معاشرتي خرابو خاتمه کوم. دوئي واپس خپل کلي اتمانزو ته لاړل او خپلو ملګرو سره د صلاح مصلحت نه پس ئې خپلې تعليمي او اصلاحي سرګرمۍ بيا شروع کړې. دوئي د پښتنې معاشرې نه د تربګنو او دشمنو ختمولو، د پښتنو د تعليم طرف ته متوجه کولو او خپلې ژبې ته د راړولو دپاره کوششونه شروع کړل"(3).

باچا خان هم د نورو ډېرو پښتنو سره د افغانستان په هجرت لاړو ولې دا ئې ضروري ګڼله چې په صوبه سرحد کښې چې د پېرنګي د ظلم نمر يوه نېزه راښکته دی او تول د جبر په بټۍ کښې ورتېږي په داسې حالاتو کښې هغه واپسي اوکړه. چې د پښتنو د حالت بدلولو دپاره په عملي توګه ګامونه پورته کړی شي.

خان عبدالولي خان ليکلي دي چې :

,, په واپسۍ کښې بيا هغۀ هغه خپل تعليمي خدمت ته مخه کړله. خو دې ځل له ئې لږ په منظم طريقه کار ته ملا اوتړله. په اتمانزو کښې ئې د علاقې د مشرانو يوه لويه غونډه وکړله. او د ,, انجمن اصلاح الافاغنه،، په نامه ئې د يوې ډلې بنياد کېښودو. چې دوئي به د پښتنو بچو له د تعليم ورکولو دپاره کوشش کوي. د پښتنو د معاشرې د اصلاح او د هغوي تر مېنځه دشمنۍ لرې کول هغوي کښې اتفاق او رورولي پېدا کول، دا ددې انجمن غرض ؤ. کافي د کار خلق، بې غرضه او په قام مئين ملګري په يو ځائې راټول شو. په اتمانزو کښې د يو ازاد اسلاميه سکول رده کېښودې شوه. دې سکول له د اتمانزو د پريچ خېلو يو خان حاجي محمد اکرم خان خپل د استوګنې تيار کور ورکړلو. ماته دا عزت او سر لوړي حاصله ده چې دغه سکول ئې پرانستو نو زۀ ددغې سکول اولنی طالب علم ووم. زۀ

ډېر ورکوټی ووم. لا به د پنځو کالو هم پوره نۀ ووم چې زۀ ئې ورکښې کښېنولم. او بل راسره مظفر نومې د قادري ټانګې والا زوئی ؤ. د انجمن اصلاح الافاغنه شاخونه په ټوله علاقه کښې جوړېدل او ځائی په ځائی سکولونه پرانستلی شو. باچا خان او د هغۀ ملګري په دې سلسله کښې د نزدې او لرې علاقو په دوره اووتل. او پښتنو کښې ئې د تعلیم د شوق پېدا کولو کوشش کوؤ. حقیقت دادی چې پښتنو تعلیم ته مخه کړه. او رو رو هلکان راتلل. سکولونو ته استاذان د نوکرۍ دپاره نا بلکې د خدمت په جذبه راتلل او یو قسم خاموش انقلاب د پښتنتو په معاشره کښې راتللو"(4).

د پوهانو ددې رایو نه دا خبره په ښۀ شان واضحه کېږي. چې باچا خان د عمل جدوجهد او مبارزې د مېدان سړی ؤ. هغه په خپل عمل پښتانۀ متاثره کړل او په ځان پسې ئې کړل.

دا یوه عامه خبره ده چې د کردار په ځائی ګفتار ډېر وي ولې د باچا خان خبره بل شان ده. هغۀ دګفتار نه ډېر زور په کردار راؤړی دی او په خپله ئې خپل ټول ګفتار په خپل کردار کښې ښودلی دی. اوددغې کردار دپاره هغوي پښتون مجله جاري کړه چې په کښې خپل قام ته د عمل خبرې اوکړې. د هغوي دغه لیکونه د هغوي د عملي ژوند او مبارزې د لفظونو تصویر وړاندې کوي. او هم ددغه تصویر په پس منظر کښې د هغوی رسا فکر او ژوندی شعور خپلې ښکلاګانې خوروي.

د باچا خان عملي ژوند او مبارزه د هغوي د نثر لیکونو هغه فکري بنیادونه دي چې ځنګ پرې د هغوي سل کاله خواؤ شا زندګي ولاړه وه داسې پرې دغه نثر لیکونه د حال په ژبه د خپل ماضي او د ازادۍ د تحریک تاریخي واقعات بیانوي.

د باچا خان د نثر لیکونو فکري زاویې:

اوس د باچا خان د نثر لیکونو هغه پېغام ته ځیر کېږو چې وخت په وخت ئې د خپل تخلیق په مرحلو کښې د خپل شعور ادراک او پوهې نه رازنځولی دی. او د پښتو د نثر په جام کښې ئې په ټولو پښتنو عموماً او په ادبي حلقې خصوصاً پېرزو کړی دی.

## اصلاحي کارونه:

باچا خان خو بنیادي طور یو سماجي کارکن ؤ او ځان ته به ئې وئیل هم او د هغې وجه دا کېدی شي چې سوشل او سماجي کارونه ډېره لویه دائره لري. په دې چې په هغې کښې د انسانیت د خدمت ټول عملیات شامل وي. ولې سیاست په دغه حواله ډېر محدود عمل دی او ځکه باچا خان او د هغه ملګري خدائي خدمتګار وو. نه چې سیاسي ورکران یا کارکنان. البته دا وه چې سیاست ددغه سماجي کارونو یو اړخ کېدی شو او ددغه حده پورې ئې عملیات هم لرل.

باچا خان ددغه سماجي کردار سره د خپل ګفتار او تحریرونو نه هم کار اخستو په پښتنو کښې ئې د سماجي خرابو په تحریري توګه هڅې کولې. د سخات خېرات نه چې زمونږ په معاشره کښې کوم رسم او رواج جوړ شوی دی باچا خان د هغې خلاف لیکي چې :

"زۀ د عربو په ټولو ملکونو کښې ګرځېدلی یم ما هلته حتی په مکه معظمه، مدینه منوره، نجف او کربلا کښې هم چرې دا د سخات او خیرات طریقه نه ده لیدلې. حال دا چې هلته دا طریقه ده چې مړی اوشي. خلق خبر شي بیا جنازه جومات ته راوړي هلته ئې جنازه اوشي. د دعا نه پس وارثان خپل مړي د ښخولو دپاره مقبرې ته یوسي او نور مسلمانان خوارۀ شي. دا اسلام خو مونږ ته د عربستان نه راغلی دی خو خبره دا ده چې دا قسم عادتونه په مونږ کښې خودغرضو خلقو پیدا کړل. په اسلام کښې دا څیزونه نۀ شته بله دا چې دا دومره مال بل ته څرنګې بخښې او چې سړی ناداره او محتاجه هم وي. بله دا چې سړی مړ شي د هغه عملنامه خو بنده شي. دا خیرات او سخات به څنګه د هغه په حسناتو کښې لیکل کېږي"(5).

## د زنانوو حقوق :

د زنانه ذات چې د اسلام نه وړاندې په عربو کښې څومره لاندې او کمتر ګڼلی شو د اسلام د راتلو نه پس د هغې حقیقي مقام په ګوته کړی شو. ولې پښتنو کښې د ښځې مقام اوس هم ډېر لاندې ګڼلی کېږي. باچا خان چې په کومه زمانه کښې د پښتنو د اصلاح کارونو ته ګوتې واچولې نو دا خبره هم مخې ته وه چې د زنانوؤ قدر نۀ شته او په معاشره کښې ورته د عزت په سترګه نۀ کتلی کېږي.

"ما سره د خپل قام د ښځو ډېر قدر او عزت وو او ډېره همدردي مې ورسره وه ولې چې زمونږ په قام کښې هم لکه د نورو مشرقي قومونو په شان د ښځو قدر نۀ ؤ. دوئي به د سړو نه ښکته ګڼلې شوې. حالانکې چې پستي او بلندي په عمل ده که د چا عمل پست وي هغه نر وي که ښځه په کار دي چې پست وګڼل شي او د چا عمل چې اوچت وي نر وي که ښځه په کار دي چې په درانۀ نظر ورته وکتل شي"(6).

## د زنانوو د تعلیم په لړ کښې لیکي :

,, په هغه وخت کښې هلکان چا تعلیم ته نۀ پرېښودل د جونو تعلیم خو بالکل د کفر سره مترادف ګڼل کېدۀ. ملایانو به تعلیم ته څوک نۀ پرېښودل. زما یاد دي ما چې لور په سکول کښې داخله کړه. نور خو پرېږده چې خپله سخرګنی هم رانه خفه شوه. حالانکې دا سکول د یو خان په کور کښې ؤ. خاص د جینکو دپاره ؤ. یو قسم پرائیویټ ( مخصوص ) مدرسه وه. د خان ټبر په خپله درس ورکولو. اوس هم ډېر خانان خپلې لوڼه په سکول کښې نۀ داخلوي ملایانو دې ته نۀ کتل چې اسلام خو علم په نرو او ښځو یو شان فرض کړی دی"(7).

د زنانوؤ د تعلیم د اهمیت په لړ کښې څلور اویا کاله وړاندې د باچا خان دا نظریه وه دا ئې فکر ؤ او دا ئې سوچ ؤ.

,, زۀ به خپلو پښتنو رونړو ته دا ووایم چې تاسو د دنیا تاریخ اوګورئ چې تر کومه وخته پورې د یو قوم ښځې رابېدارې شوې نۀ وي هغه قوم بېدار شوی نۀ دی. چې تر کومه وخته پورې د یو قوم ښځې اوچتې شوې نۀ وي هغه قوم اوچت شوی نۀ دی. کوم وخته پورې چې د یو قوم ښځو ملا تړلې نۀ وي هغه قوم ازاد شوی نۀ دی. ښځه او نر د ګاډي دوه پایې دي او ګاډی چرې په یوه پایه تلی نۀ شي. او

تاسو په دې خبرې باند هم لږ غور اوکړئ چې د مور غېږه د بچو اوله مدرسه ده. د بچو ټول تربيت خو د هغوي په لاس دی او هم ددې بچي نه قوم جوړيږي. نو چې څۀ رنګ د يو قوم بچي وي نو هم هغه رنګ به هغه قوم وي. پلار که ډېر هوښيار او لايق شي په بچو ئې دومره اثر نۀ وي. لکه چې څومره د مور وي. د لايقې مور بچي اکثر لايق وي د تعليم يافته مور بچي اکثر تعليم يافته وي"(8).

دا هم يو رسم يا رواج ؤ چې جينکۍ بې تعليمه پاتې کېدې شوې يا چا تعليم له نۀ ليږلې. باچا خان هم د خپل قام دغه اصلاح اوکړه او د جينکو د تعليم دپاره ئې کوششونه اوکړل.

**تعليم او تربيت**:

د باچا خان د تحريک بنياد د تعليم او تربيت ؤ. هغۀ ګڼل چې د پښتنو دې په صحيح طريقه تعليم او تربيت اوشي او د ترقۍ په لور دې روان کړی شي. ولې په دغې لاړ کښې د ټولو نه اول د مدرسو نشتوالې او بيا د معاشرې فضول رسمونه او رواجونه دشمنۍ تربګنۍ، بغض، حسد او کينې لکه د غر ولاړ وو. ولې باچا خان چې د پېرنګي سره سر جنګوۀ نو دا ورته ډېرې وړې خبرې ښکارېدې.

,, د جمعې په ورځو کښې به د حاجي صاحب په ځائی کښې ډېر خلق جمع کېدل. د لمانځه دپاره به له ليرې ليرې ځايونو نه راتلل. زۀ به هم که په دوره نۀ وم خامخا ورتللم. مهتمم صاحب، مخفي صاحب او مولوي فضل ربي صاحب به هم د صلا مشورې دپاره کله نا کله راتلل. د جمعې د لمانځه نه پس به ما خلقو ته وعظ او نصيحت هم کاوۀ. خو د ملايانو نۀ خوښېدۀ. ځکه چې زمونږ ملايان د برهمنانو غوندې ځان د مذهب ټېکداران ګڼي. ما د خپل قام د اصلاح دا کار د خدائی دپاره کولو د هغوی پروا مې نۀ ساتله. اخر ئې راپسې پټه پټه پروپېګنډه شروع کړه چې ږيره ئې خرئيلې ده او وعظونه کوي. اول خو دې خپل ځان په شريعت برابر کړي بيا دې نورو خلقو ته نصيحت کوي. د دوئي خو په ږيره او اسلام غرض نۀ ؤ زما بدناموول ئې غرض ؤ. قوم هم ناپوهه او جاهل ؤ چې مُلا به ورته ووې چې دا مذهب دی دۀ به هم منله، ملايانو ږيرې له دومره اهميت ورکړی ؤ چې ټول اسلام ئې تش د ږيرې پورې تړلی ؤ حال دا چې مذهب خو ښۀ عمل دی. مذهب خو په بنيادي ډول د اخلاقو او عمل سره تعلق لري ږيره پرېښودل او برېتونه خرئيل دا د عربو تهذيب ؤ. يوازې د صحابه^رض^ نه بلکې د اسلام د دښمنانو عربو لکه ابوجهل، ابولهب وغېره هم ږيرې وې. سره ددې هم ددې دپاره چې د ملايانو د اعتراض نه خلاص شم ږيره مې پرېښودله. خو بيا هم د ملايانو نه خلاص نۀ شوم. بيا به ئې وئيل چې د موټې نه کمه ده. د دنيا تاريخ ګواه دی چې په کوم قوم کښې داسې اشخاص پېدا شوي دي چې هغوي د خپل قوم د اصلاح دپاره پاځېدلي دي د اقتدار خاوندانو ئې مخالفت کړی دی. ولې چې هغوي خپل اقتدار په خطر کښې ليدلی دی. تاسو دې خپل د خدائي خدمتګارو تحريک ته وګورئ څومره چې قوم کښې پوهه راغلې ده هماغومره د اقتدار د خاوندانو قدرت کم شوی دی. او د خپل پېغمبرص ژوند مطالعه کړئ چې خپلو ترونو، تربورانو ئې مخالفت وکړو. د څۀ دپاره ؟ د اقتدار

دپاره او د مدينې خلقو ئې ملاتړ وکړو ولې چې د هغوي سره نۀ مذهبي اقتدار ؤ نۀ سياسي. يهودو چې ئې مخالفت اوکړو هم د اقتدار دپاره ؤ"(9).

د خپلو مدرسو په لړ کښې د خپلو هلو ځلو او سرګرمو بيان داسې کوي کوم چې د هغوي د نثر نګارۍ د فکري اړخ يو مهم اظهار دی.

"زمونږ مدرسې په ترقۍ کښې وې پښتون ژوندی قوم دی. خو چې د ژوندي کولو خلق په کښې پېدا شي. تر څو چې په يو قام کښې د ژوندي کولو دپاره خلق پېدا نۀ شي هغه قوم ژوندی کېدی نۀ شي. په لږه موده کښې خلقو ځای په ځائی مدرسې جوړې کړې او په ډېر شوق ئې په کښې خپل بچي داخل کړل. څومره چې مدرسې زياتېدې هغومره زمونږ پېسو ته ضرورت ډېرېدو. ځکه چې بې پېسې دنيا کښې هېڅ کار نۀ شي کېدی. پښتون قام شوم نۀ ؤ مهمان نواز ؤ. فياض ؤ، خېر و خېرات په کښې ؤ. خو کومه طريقه چې ملايانو ورته د خېرات ښودلې وه هغه په دې وخت کښې ګټوره نۀ وه. قام په پوخ خېرات اموخته ؤ حال دا چې زمانه بدله شوې وه. د پوخ خېرات ضرورت نۀ ؤ پاتې. د نقد او خام خېرات ضرورت ؤ. د زمانې د بدلون سره که قام بدل شي ترقي وکړي که نه وروسته پاتې شي. د زکواة په باره کښې هم ملايانو قوم ته وئيل چې په مدرسو زکواة نۀ کېږي. د ملايانو سره په دې خبرو ډېر بحثونه شوي وو. خو ملايان دې ته تيار نۀ وو. چې د قام د ابادۍ او تعليم دپاره د يوې نمرۍ وريژو نه تېر شي. قام په رسم رواج تنګ شوی ؤ خو دا جرأت په کښې نۀ ؤ چې پرې ئې ږدي. رسم و رواج پرېښودل اسان کار نۀ دی. په ريښتيا ډېر ګران کار دی او اخلاقي جرأت غواړي. مونږ چې په دورو قوم ته تللو په هر ځائی کې به قوم راته راغونډ شو چې د قوم سره مو خبرې اوکړې نو ځينې خلق به رانه راچاپېره شول چا به وئيل ما په شا وتېوه چا به ګوره يا مالګه راوړه چې دا راله دم کړه. چا به وئيل چې دم راباندې واچوه. ما به خلقو ته وئيل چې زۀ د کُف او چُف سړی نۀ يم. زۀ خو ستاسو خدمتګار يم"(10).

ددې غرض دادی چې باچا خان د خپل قام يوازې تعليمي رجحان نۀ پېدا کولو چې صرف دا قام کتابونه اولولي بلکې هغوي دا تربيت کولو چې ددې قام دې په صحيح توګه اصلاح اوشي او ذهني ترقي دې اوکړي. خپل دغه واقعات رقم کول ددې خبرې دليل دی چې هغوي خپل ليک کښې خپل قام ته يو مقصد وړاندې کړی دی په دې چې دا ليک به د هغوي د قام او د ټولې نړۍ د انسانانو په اخلاقي روزنه او ذهني وده کښې په پوره ډول لارښودنه او رهنمائي کوي.

## د خدائي خدمتګارۍ پېغام:

د خدائي خدمتګار د عظيم تحريک عظيم پېغام باچا خان په مختصر ټکو کښې داسې بيانوي.

"مونږ پښتانۀ خدائي کار او خدمت هغه کار او خدمت ته وايو چې بې د کومې طمعې، غرض او أُجرت نه د خدائی دپاره کوؤ او خدائی خو خدمت ته ضرورت نۀ لري. د خدائی د مخلوق خدمت د خدائی خدمت دی"(11).

د خدائي خدمتګار د کردار په باره کښې ليکي:

,, خدائي خدمتګار به د خپل قوم او ملک خدمت د خدائی دپاره کوي بل غرض به ئې نۀ وي رسم رواج به پرېږدي او هره ورځ به په خپل لاس دوه ګېنټې کار کوي"(12).

**خپله لاسه ګله لاسه**:

زمونږ دين او مذهب مونږ ته په خپلو لاسو د ګټې او محنت درس راکوي. ولې پښتنو ته په محنت کولو ځان بدي ښکارېدو. په حجرو کښې تکيا ته ډېره وهلې درسته ورځ قيصې کول د پښتنو عادت ؤ. خپله درنه او د بل سپکه رواج جوړ شوی ؤ. باچا خان په خپل لاس محنت کول د خپل تحريک په اصلاحي کارونو کښې يو اهم کار اوګڼلو او دومره ئې پرې زور راؤړو چې په جېل کښې به ئې هم خپل کار په خپله کولو.

,, عبدالغفار خان په جېل کښې له هيڅ قسم رعايتونه نۀ قبلول نۀ خوښول ځينې وخت به ډېرو غريبانانو قېديانو خواهش ظاهر کړو. چې د خان برخه کار مونږ په خپله ذمه اخلو. خو هغه ته هيچرې داسې رعايتونه منظور نۀ وو"(13).

باچا خان د خپل محنت او مشقت په حقله ليکلي دي کوم چې دا خبره هم په ډاګه کوي چې يو خوا باچا خان خلق په خپل لاس کار ته رابلل نو بل خوا ئې د هغې په اقتصادي فائدو هم ژور نظر ساتو.

,,پښتنو ته زراعت سپک کار ښکارېدو. تجارت هم ورته سپک کار ښکارېدو او وئيل به ئې دا د بنيا بقال او هندو کار دی. د خان تعريف به دا ؤ چې يره فلانی ډېر لوئی خان دی د خپل پټي، پوله ورته معلومه نۀ ده ما به وې هلکو تاسې فکر وکړئ دا خان دی که دا خر دی چې خپل پټی نۀ پېژني مونږ د يوې خوا نه په دوره ګرځېدو او د پښتنو د ذهنيت اصلاح مو کوله، د بلې خوا نه مو خپلې متې راونغښتې په خپل پټي کښې به مو په خپله کار کولو. زما د تعليم ملګری عبدالحليم دغه وخت د زراعت په محکمه کښې مقرر شوی ؤ. د هغۀ په کومک ما يو د مېوې باغ جوړ کړو. تر دغه وخته پورې سبزي او ترکاري له ښاره کلو ته راتلله ما چې باغ جوړ کړو سبزي او ترکاري به مې هم کرله او خلقو ته به مې ښودله چې ګورئ د خپل لس کار څومره برکتي وي او تاسو خو لږ ورته ځير شئ. د پښتنو په خاوره کښې هر قسم مېوه، ترکاري او غله کېږي. چې زراعت ته د خلقو مخه شوه ما په اتمانزو کښې دګورې منډۍ پرانسته نورو خانانو او تربورانو به راپورې ملنډې وهلې چې تۀ ګوره د بنياګانو کار ئې شروع کړو. زمونږ تجارت دغه وخت ټول د هندوانو او پراچګانو په لاس کښې ؤ. مسلمانان به په تجارت شرمېدل زمونږ ګټه وټه به ټوله هندوانو او پراچګانو وړه ما د چا د پېغورونو پرواه نۀ کوله"(14).

## عدم تشدد، صبر و تحمل:

عدم تشدد د باچا خان د تحريک او سياسي مبارزې د ټولو نه ښکاره عمل او فلسفه ده. کومه چې هغه په خپل ژوند کښې په عملي توګه ثابته کړې وه. په تحرير کښې دغه فکر داسې وړاندې کوي.

"دراصل عدم تشدد يو طاقت دی څرنګه چې تشدد يو طاقت دی. د عدم تشدد هم دغه شان فوج دی لکه څنګه چې د تشدد دی. خو د عدم تشدد وسله تبليغ دی او د تشدد وسله ټوپک دی. عدم تشدد په خلقو کښې محبت پېدا کوي، همت پېدا کوي او جرأت پېدا کوي او تشدد په خلقو کښې نفرت پېدا کوي او ويره پېدا کوي او بزدلي پېدا کوي. بعضې خلق وائي چې د ډيفنس (دفاع) دپاره خو تشدد په کار دی. دوئي دې ته فکر نۀ کوي چې تشدد دې وکړو نو د عدم تشدد لاره دې پرېښوده حالانکې عدم تشدد کښې خپله دفاع شته، عدم تشدد کښې شکست نۀ شته او تشدد کښې شکست شته، څنګه چې د تشدد يو نظام دی. دغه شان د عدم تشدد هم مکمل نظام دی تشدد اسان دی او په دې لاره تلل هم اسان دي او عدم تشدد ډېر ګران دی او په دې لاره تلل هم ډېر ګران دي. يو سړي له د پړق جواب کښې پړق ورکول اسان کار دی خو پړق زغمل ګران کار دی"(15).

## سياسي لارښودنه:

باچا خان د يو سماجي کارکن سره سره د هندوستان د ازادۍ د تحريک منلی نوم دی. هغه د خپل قام د ودې، پرمختګ او ترقۍ دپاره فکري او عملي هڅې کړي دي کومې چې د نړيوال ازادي خوښو د تاريخ يو ځلنده باب دی. د قامي سياست په اړه هغوی د اتفاق او اتحاد، رورولۍ او قامولۍ دپاره د خپل تقرير او تحرير دواړو نه زړۀ پورې کار اخستی دی. داسې ئې د ازادۍ په مفهوم هم دا قام پوهه کړی دی ولې ددې سره ئې د خپلې ژبې په اهميت هم خبر کړی دی. او دا توکي ورته د قام د سياسي روزنې دپاره د اهميت وړ ښکارېدل.

## اتفاق او اتحاد:

پښتون مجله کښې باچا خان ليکي :

,, مونږ پښتانۀ هم يو قوم يُو. زمونږ دپاره هم ضرورت دی. چې د دنيا د نورو قومونو سره اوږه په اوږه د تللو کوشش اوکړو او په دې خبره شکر هم دی چې زمونږ ډېر رونړه مېدان د عمل ته راوتي دي"(16).

بل ځائی ليکي :

" پښتنو رونړو ! مونږ ستاسو ورونړه يُو. ستاسو خدمتګار يُو، ستاسو خدمت له راغلي يُو راځئ چې دا خپل وران کور جوړ کړو. تاسو لږ دې دنيا ته اوګورئ که علم مو نۀ شته نو سترګې خو مو شته. د دنيا خلق او قومونه اسمانونو ته اوختل او مونږ په زمکه پاتې شو. هغوی چې زمونږ په شان بنيادم دي، مونږ ورته لاسونه نيولي دي چا نه دانې غواړو چا نه پېسې غواړو، مونږ له خدای د جنت په شان

ملک راکړی دی. د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی او زمونږ په کښې څۀ حال دی ؟ د جوارو ډوډۍ نۀ شته چې په مړه ګېډه ئې اوخورو هغوی ولې اباد شو ؟ او مونږ ولې پاتې شو ؟ هغو کښې رورولي ده، قامولي ده او اتفاق دی. په مونږ کښې پرې دي جنبې دي او بغض دی، کینه ده، نفاق دی. دا نن دنیا د قامولۍ دنیا ده. که قوم شوئ نو ستاسو دنیا به هم اباده شي او ستاسو اخرت به هم اباد شي"(17).

## د ازادۍ پېغام:

ددې لوئی ازادي خوښ ملي رهبر ټوله مبارزه د ازادۍ د شمعې نه لکه د پتنګ تاوېده. اذیتونه،تکلیفونه، جېلونه ټولې قربانۍ د ازادۍ دپاره وې. چې خپل اولس د پېرنګي استعمار د پنجو نه ازاد کړي. چرته چې به تلو د ازادۍ پېغام به ئې اولس له اوړو. د ملي یوالي مطلب او مقصد ئې هم دغه ؤ چې قام یو شي او خپله ازادي حاصله کړي. باچا خان د غلامۍ د ژوند یو روڼ تصویر داسې وړاندې کوي.

„ زما زړۀ په دې خبره ډېر خفه شو. فکر به مې کوؤ چې غلامي څومره یو خراب څیز دی. چې یو غلام ته د خپل مذهب د احکاماتو پوره کولو هم موقع او اجازت نۀ وي. ټوله ورځ تېره شوه. بغېر د هغې بوډا نمبردار نۀ څوک زما په نظر رانغلو. چې مازیګر شو او سپاهي راغی او زۀ ئې په خپلې کوټټۍ کښې بند کړم. ټوله شپه مې فکرونو او غمونو کښې تېره کړه. ډېر ساده ګان او د پېرنګیانو اشنایان مسلمانان وائي چې انګرېزان په مذهب کښې دخل نۀ کوي د پېرنګیانو په راج کښې مذهبي ازادي ده. لیکن ازادي چرته ده ؟ بېشکه د هغې مذهب ازادي ده. چې کوم د هغوي مفاد ته نقصان نۀ رسوي چې سبا شو. نو سپرنټنډنټ صاحب راغی. ما سره ئې خبرې شروع کړې. په خبرو خبرو کښې ما ورته ووئیل چې تاسو چې وایئ چې مونږ په مذهب کښې دخل نۀ کوؤ. او په هندوستان کښې مذهبي ازادي ده. دا عجیبه ازادي ده. چې زۀ تاسو پرون د اختر مونځ قدرې ته هم پرې نۀ ښودم"(18).

دا داسې واقعاتو په تناظر کښې چې د باچا خان ټول ژوند د ازادۍ د مبارزې نه نۀ عبارت کېږي نو څۀ به کېږي. په دې چې چرته د اختر په ورځ د مونځ اجازت چا ته نۀ ورکړې کېږي نو نور به د هغه قام د حقوقو څۀ تحفظ او پاسداري اوشي. ځکه خو هغه د پېرنګي نه ازادي اخستل په ځان فرض کړي وو. او دغه پېغام ئې د خپلو لیکونو د لارې خپل اولس ته رسوو.

## د پښتو ژبې د ودې او ترقۍ پېغام:

وړومبی پښتون لار ښود باچا خان دی چې شعوري طور ئې د خپلې ژبې د ودې دپاره شعوري ګامونه پورته کړل او په حقیقي معنو کښې ئې پښتو د سیالو ژبو سره په صف کښې د اودرېدو جوګه کړه. د خپل تحریک ټول لیکل ئې په پښتو کښې کړل او بیا په تېره تېره „ پښتون،، مجله چې د پښتو ادب او

صحافت ورمبی ګام دی هم دی مرد مېدان فخر افغان پورته کړی دی. دا ئې هم شعوري طور کوشش کړی دی چې په پښتو کښې علمي کار اوشي او قام ته ترې ښېګړه اورسي.

,, په جېل خانو کښې ما د خپل قوم په حالاتو باندې په ښه شان سره غور کړی ؤ. زۀ په دې نتيجه ورسېدم چې په دنيا کښې هېڅ قوم بغېر د خپلې ژبې نه ترقي کولی نۀ شي او په هغوی کښې علوم او فنون پېدا کېدی نۀ شي. ما دا اراده کړې وه چې ضرور به يوه رساله په پښتو کښې د خپل قوم د پوهولو، د دنيا د حالاتو نه خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته د مائل کولو ( مخ کولو ) دپاره جاري کوم او ددې کوشش به هم کوم چې انجمن پخپله ژبه کښې د بچو دپاره د ابتدائي تعليم انتظام وکړي. حقيقت دادی چې دغه وخت په پښتو ژبه کښې هېڅ نۀ وو او نۀ پښتو د چا ياده وه او پښتون قوم دومره ناپوهه، نادانه ؤ چې دا خپله ژبه ورته سپکه ښکارېده او چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي نو هغه سپک شي او چې خپله ژبه ترې ورکه شي نو ورک شي"(19).

## د پښتون مجلې فکري اغيزه:

پښتون مجلې په صوبه سرحد ،افغانستان، يورپ، امريکه او استرېليا کښې هم پښتنو ته ځان اورسوۀ. او د خدائي خدمتګارانو د ليکوالو د ليکونو په ذريعه د تحريک فکر او نظر پښتو لوستونکو ته اورسېدو. دغه وخت د پښتو بل کوم اخبار يا رساله نۀ وه صرف پښتون مجله جاري شوه او هغه د اعلی مقصد دپاره د لويو ليکوالو د ليکونو نه برجت وه چې هر لوري ته ئې خپله يوه فکري او شعوري اغيزه اوکړه او پښتو ته دخلقو پام شو. باچا خان ليکي :

"دا رساله په پښتنو کښې ډېره هر دلعزيز شوه دا خپل ملک خو پرېږده پښتانۀ په يورپ، امريکه او استرېليا کښې ددې نه خبر شو نو هغوی به غوښته او امداد به ئې هم ورسره کوۀ. د پښتنو ئې پښتو طرف ته شوق پېدا کړو او په افغانستان کښې هم ښۀ لوستل کېده. عبدالهادي خان داوي ماته قيصه کوله چې پښتون اخبار به کابل ته راغی په قوميت (مليت) چې به کوم مضمونونه ليکل شوي وو هغه به ئې مونږ لوستل او د افغانستان په خلقو کښې هم پښتو طرف ته رغبت زيات شو او په امان الله خان خو ئې دومره اثر وشو چې هغۀ اعلان اوکړو چې خلقو له په کار دي چې پښتو ژبه زده کړي، درې کاله پس به په دې ملک کښې پښتو تعليمي او سرکاري ژبه وي. او عبدالهادي خان دا راته هم ووئيل چې مونږ هم د يوې رسالې بنا وکړه او د هغې نوم مو هم پښتون کېښودۀ. نو امان الله خان راته ووئيل چې د پښتنو به بس دغه يو پښتون وي نو ما بيا هغې خپلې رسالې له ,, د پښتنو ژغ، ، نوم کېښود. ليکن افسوس چې پېرنګيانو دا خبره برداشت نۀ کړې شوه او هغه ووې چې ددې رسالې يو څو نمبره وتي وو چې افغانستان کښې بغاوت وشو، امان الله خان لاړو او د هغه په ځائی ,, بچه سقه، ، د څۀ وخت دپاره د افغانستان په تخت کښېناست"(20).

باچا خان د ژبې د ترقۍ په فني مسئله هم په هغه وخت کښې پوهېدو چې نن نه اتیا کاله خواؤ شا وړاندې زمانه وه او لا د چا د ژبې لوستو او لیکلو ته هم توجه نۀ وه. په افغانستان کښې لاهم د پښتو دپاره شعوري ګامونه نۀ وو پورته شوي. کوم وخت چې د افغانستان وزیر محمد ګل خان مومند د پښتو سیند په نوم یو ضخیم لغت ولیکلو نو باچا خان پرې په پښتون مجله کښې په خپله تبصره کښې دغه کار ته د قدر په سترګه کتلي دي او د ژبې په وده کښې د یوې متفقه املا په ضرورت زور راؤړی ؤ. ددغه تبصرې د لوستو سره باچا خان د یو سنجیده لیکوال پوهه ادیب او دانشور په حېث د خپل مقام تعین هم کوي او د را روان وخت د ژبې او ادب د ضرورتونو نه خبر محقق او نقاد هم څرګندېږي.

,, په دې کتاب کښې د پښتو خاص حرفونه د زوړ شکل نه په بل شکل لیکلی شویدي او داسې لغات هم نوي نوي تجویز شوي دي. زۀ په دې باب کښې دا مناسب خیال کوم چې د پښتو د رسم خط مسئله ډېره یوه اهمه خبره ده. دا د یو کس یا د یوې قبیلې د خیال مطابق فېصله کول نۀ دي په کار. بلکې پکار دي چې د پښتون قوم د هرې علاقې، هر خېل مشران او د ژبې ماهران په یو ځای جمع شي او یو لوئی کانفرنس منعقد کړي او ټول مشران په دې مسئله غور اوکړي او په اتفاق سره فېصله اوکړي چې کوم کوم حرفونه پرېښودل پکار دي او کوم کوم حرفونه په نوي شکل جاري کول پکار دي. بلکې په عام رسم خط د پښتو کښې کوم کوم نقائص دي ؟ چې هغه لرې کړې شي او کوم نوي الفاظ او حروف دي ؟ چې په پښتو کښې زیات کړې شي. نو که چرې موجوده حکومت د افغانستان چې د پښتو ژبې د ترقۍ خواهش لري دا انتظام اوکړي. چې په جلال اباد یا بل مناسب ځائی کښې د یو کانفرنس دپاره تیاري اوکړي. نو د سرحد تمام پښتانۀ اهل قلم به په هغې کښې شمولیت اوکړي. او ځۀ ښې ښې خبرې به فېصله شي. او که افغانستان دې خبرې ته تیار نۀ وي نو مونږ د سرحد پښتانۀ به په پېښور کښې ددې انتظام اوکړو. او د افغانستان نمائندګانو ته به دعوت ورکړو"(21).

## په ادب کښې د مقصدیت پېغام:

د باچاخان د تحریک مقصد خو لکه د نمر ښکاره ؤ او چې کله ئې پښتون مجله شروع کړه نو د هغې دپاره مقصدي لیکونه رامخې ته کول ضروري وو. ددې دپاره هغوی طرحي مشاعرې اوټاکلې چې د مقصد نه ډکې طرحې به وې د قام او وطن د مینې او د قربانۍ د جذبې نه به ډکې وې. دې سره به ئې د ازاد سکولونو په کلیزو کښې سټېج ډرامې هم وړاندې کولې چې اکثر به عبدالأکبر خان اکبر او خلیق صاحب یا جلیا صاحب لیکلې. په دغه ډرامو کښې به غني خان، ولي خان او عبدالرؤف قربان برخه اخستله. دې سره په پښتو ادب کښې د شلمې صدۍ د سیاسي، سماجي او جغرافیائي حالاتو مطابق د مقصدیت رنګ وځلېدو.

,, زمونږ انجمن د پښتو د ترقۍ دپاره او د شاعرانو د خیالاتو بدلولو دپاره د مشاعرو انتظام وکړو او د ښو ښو نظمونو او بېتونو له پاره ئې انعامونه مقرر کړل او په کال کښې یو ځل چې د

مدرسې کالیزه جلسه به کېده ورسره د مشاعرې دپاره هم انتظام کېدو. ددې په وجه په پښتنو شاعرانو کښې یو عظیم الشان انقلاب راغی او د خال و خط په ځائی د اتفاق، وروری او قومي ترقۍ دور شروع شو"(22).

غرض دا چې د باچا خان د تحریک ټول اغراض و مقاصد د هغوی په نثر لیکونو محفوظ دي او هغوی د خپل قلم نه ویستي زمونږ مخې ته پراتۀ دي.

باچا خان چې څنګ په ټول ژوند کښې هسې نۀ کښېناستو د مبارزو او جدوجهد په لار روان ؤ. داسې ئې خپل قام ته هم دغه فکر وړاندې کړی ؤ او د هغوي دغه تحریرونه که یو طرف ته د هغوی د اوږدې مبارزې تاریخ رقم کوي نو بل طرف د هغوي د روښانه او مترقي فکر نه پرده هم پورته کوي.

داسې د هغوی دا فکر انګېز نثر لیکونه که یو طرف ته د هغوی د سیاسي شعور د وسعت غمازي کوي نو بل طرف د پښتو د نثري ادب یوه غوره او د مقصدیت نه ډکه برخه ده.

***

# حوالې

(1) عبدالغفار، زما ژوند جدوجهد، کابل دولتي مطبعه، ۱۹۸۳ء، مخونه ۱۸۲، ۱۸۳
(2) بهادر شاه ظفر کاکاخېل، پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې، یونیورسټي بک ایجنسي، اووم ځل، ۲۰۰۹ء، مخ ۹۳۳
(3) د خېبر پښتونخوا اتلان، د مؤلف نوم نهٔ لري. خېبر پښتونخوا ټېکسټ بک بورډ، کال نهٔ لري، مخ ۱۳
(4) خان عبدالولي خان، باچا او خدائي خدمتګاري، چاپ ځای کوهاټ روډ پېښور، ۱۹۹۳ء، مخونه۵۸، ۵۹
(5) زما ژوند او جدوجهد، مخونه ۴۰، ۴۱
(6) همدغه، مخ ۷۹
(7) همدغه، مخ ۸۱
(8) عبدالغفار، ,, د پښتنو ښځې،، پښتون اتمانزی، جلد ۴، ګڼه ۱۲، یکم اکتوبر ۱۹۲۸ء، مخونه ۵، ۶
(9) زما ژوند او جدوجهد، مخونه ۸۸، ۸۹
(10) همدغه، مخونه ۸۹ تا ۹۲
(11) همدغه، مخ ۳۵۲
(12) همدغه، مخ ۳۵۸
(13) خالده ادیب خانم، ,, متحده قومیت او فخر افغان،، ترجمه سید رسول رسا، پښتون اتمانزی، جلد ۵، ګڼه ۱۱، ۲۱ اپریل ۱۹۳۹ء، مخ ۱۷
(14) زما ژوند او جدوجهد، مخونه ۱۸۷، ۱۸۸
(15) همدغه، مخونه ۳۵۸، ۳۵۹
(16) عبدالغفار، ,, د امریکې ننګیالي پښتانهٔ،، پښتون اتمانزی، جلد ۴، ګڼه نمبر ۹، یکم ستمبر ۱۹۳۸ء، مخ ۹
(17) زما ژوند او جدوجهد، مخ ۳۵۷
(18) عبدالغفار، د شلمې صدی تهذیب، پښتون اتمانزی، جلد ۵، ګڼه نمبر ۱، یکم جنوري ۱۹۳۹ء، مخ ۶
(19) زما ژوند او جدوجهد، مخونه ۳۳۳، ۳۳۴
(20) همدغه، مخونه ۳۳۴، ۳۳۵
(21) عبدالغفار، د پښتو سیند، پښتون اتمانزی، جلد ۵، ګڼه نمبر ۵، ۱۱ فروري ۱۹۳۹ء، مخونه ۷، ۸
(22) زما ژوند او جدوجهد، مخ ۳۳۵